PASHTO

2024-01-12

# د بدنونو له درملنې د ذهنونو تر روزنې: د مدیرې Dodson د پام وړ سفر د مخ پر ودې طبي مسلک څخه د تعلیم د غوره والي په لور

*قسمت د عامه زده کړې په برخه کې د DCSD د کال تر ټولو غوره اوسنۍ مدیرې د رهبرۍ لپاره مداخله وکړه*

د Redan عالي ښوونځي په بوختو تالارونو کې د مدیرې Vitella Dodson شتون د هوښیارتیا او لیوالتیا یوه بیلګه ده. ډېر وخت د مخه هغې هیڅکله هم دا فکر نه کاوه چې هغه به د تیر نومبر په میاشت کې د ولسوالۍ د 10 کلنۍ اکاډمۍ د تعلیمي عالي جایزو په مراسمو کې د 2023-2024 ښوونیز کال لپاره د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ د کال تر ټولو غوره مدیرې په توګه ونومول شي. دا ځکه چې هغې خپل هدف د سپین کوټ او سټیټوسکوپ سره بشپړ یو بریالی او مخ پرودہ طبي مسلک ټاکلی وو.

تعلیم ته د هغې ورګرځیدل تقریباً په تصادفي ډول وو.

مدیرې Dodson څرګنده کړه چې "ما پریکړه وکړه چې په طبي ښوونځي کې د زده کړې پرمهال درس ورکړم، چې همدې پریکړې زما د مسلک لاره بدله کړه."

دې مداخله کوونکې پریکړې د ښوونې په زړه پورې نړۍ کې په ځانګړې توګه په ساینسي مضامینو کې چې د هغې د خوښې موضوع ده یوه جذبه راپورته کړه، په Dunwoody عالي ښوونځي کې د هغې د الهام بخښونکو ښوونکو څخه مننه.

مدیرې Dodson وویل، "دفعتاً زما له ښوونې سره مینه پیدا شوه او د خپلو زده کوونکو سره وصل شوم. ما غوښتل چې دوی د لوړې کچې او پرمختللي ساینس لپاره چمتو کړم"

د ځینو د یادونې وړ ساینسي ښوونکو څخه مننه، هغه د ساینس لپاره خپله جذبه په Hightower ابتدایي، Peachtree Junior عالي او Dunwoody عالي ښوونځیو کې د خپل ښوونځي ورځو په تعقیبولو سره لټوي. هغې غوښتل چې په خپلو زده کوونکو کې هم ورته لیوالتیا رامنځته کړي، دا یو داسې هدف دی چې یقیناً هغې ترلاسه کړی دی.

د DCSD د کال د مدیرې په توګه د مدیرې Dodson ټاکنه یواځې د یوې مسلکي ستاینې څرګندونه نه وه. دې د ښوونځي ولسوالۍ د یوه حاصل او د اوږدې مودې وفادار کارمند په توګه د هغې لپاره د پام وړ تجربې د بشپړیدو د احساس له امله ډیره معنی درلوده.

"پرته له یو کال څخه زما ټوله پخوانۍ کاري تجربه د DeKalb سره ده. هغې په ویاړ سره وویل دا یو غیر معمولي عزت دی چې له هغې ولسوالۍ څخه یوه جایزه ترلاسه کړم چې ما ته یې زده کړه راکړې او چیرته چې ما خپل وخت د یوې ښوونکې په توګه تیر کړی دی".

د مدیرې Dodson تعلیمي شالید د هغې د مسلک د پرمختګ په څیر متفاوت دی. هغه د Georgia پوهنتون څخه په بیوشیمي او مالیکولر بیولوژي کې د لیسانس سند لري او د ثانوي زده کړې په برخه کې د Grand Canyon پوهنتون څخه د ماسترۍ او تخصص سندونه لري چې په نصاب او لارښوونې ټینګار کوي.

په دې ولسوالۍ کې د هغې د کاري ژوند تګلاره په لنډ وخت کې غیر معمولي پایلې لاسته راوړل دي. هغې د Redan په عالي ښوونځي کې پیل وکړ چیرې چې هغې په پیل کې ساینس تدریسولو. په Redan او Lithonia عالي ښوونځیو کې د تعلیمي روزونکي او معاونې مدیرې په توګه د دندې ترسره کولو څخه ډیره موده نه وه تیره شوې چې په 2020 کې هغه په Redan عالي ښوونځي کې د مدیرې په توګه وټاکل شوه.

هغې وویل: "د Redan عالي ښوونځي په څیر هیڅ ځای نشته." "زده کوونکي او کارمندان تاسو سره د کورنۍ په څیر چلند کوي. موږ په Redan کې یو متل لرو کوم چې د ښوونځي د ټولنې فضا انځوروي، هغه دا 'چې یو ځل ویاړ ترلاسه شي بیا له لاسه نه ورکول کیږي'. ښوونځی د تاریخ او غوره والي له پلوه بډایه دی او دا د ویاړ خبره ده چې زه پکې د مدیرې په توګه خدمت وړاندې کوم. "

د مدیرې Dodson همکارانو Redan عالي ښوونځي باندې د هغې د ریښتیني اغیزې یادونه کړې. ډاکټر Monique Robinzine د Redan د استثنایی زده کړې څانګې رییسې د هغې د مشرتابه طرز ستاینه وکړه.

ډاکټر Robinzine وویل چې "د خپل تصوري مشرتابه طرز العمل له لارې، هغې د همکارۍ او نوښت کلتور رامنځته کړی چې د زده کړې یو خوځنده چاپیریال رامنځته کوي." "د هغې د ازاد لاسرسي پالیسۍ او د اندیښنو اوریدلو لیوالتیا هم د ښوونځي یو مثبت چاپیریال رامنځته کړی چیرې چې زده کوونکي او کارمندان یو بل ته د درناوي او شفقت څرګندونې احساس کوي."

د Redan عالي ښوونځي معاونه مدیره ډاکټر Stacey Barlow د دې احساس په څرګندولو سره مدیره Dodson د یوې خدمتګارې مشرې په توګه تعریفوي.

"د ښوونځي وده او هوساینه او هرڅوک چې په دې ښوونځي کې دي د هغې لومړنی تمرکز دی. ډاکټر Barlow وویل چې هغه به تاسو ته دا اجازه درنکړي چې د عادي کیفیت خاوند یا متوسط و اوسئ". "د هغې انکشافي ذهنیت د هغې د استعداد سره سمون لري ترڅو ستاسو هوساینې ته په ریښتیني ډول پاملرنه وکړي. د هغې موخه خدمت کول او پرمختګ رامنځته کول دي. د آغلې Dodson خواخوږي، شخصیت، وړتیا او استقامت Redan عالي ښوونځی ته په ټولو برخو کې پرمختګ ورکړی.

د کال تر ټولو غوره مدیره که وي یا نه وي، Dodson خپله ونډه د اداري مقام څخه د زیات رول په توګه ګوري. هغه د هغو ټولو ښوونکو او کارمندانو قوي ملاتړ کوونکي ده کوم چې د عامه زده کړې د غیر معمولي ځواک له امله په ګډه کار کوي ترڅو تل پاتې اړیکې رامنځته کړي او د راتلونکو کلونو لپاره ژوند اغیزمن کړي.

هغې وویل چې "زه په دې کار کې یوازې نه یم او زه فرصت ترلاسه کوم چې له نورو سره همکاري وکړم ترڅو ډاډ ترلاسه کړم چې Redan عالي ښوونځی د زده کوونکو لپاره غوره ځای دی."

لکه څنګه چې تاسو لیدلی شئ د مدیرې Vitella Dodson سفر له هیله مندې طبي ډاکټرې څخه په زده کړه کې د یو لوی بدلون رامنځته کونکي شخصیت ته د یو چا د لیوالتیا تعقیبولو ځواک ثبوت دی. د هغې کیسه یوازې د هغو لارو په اړه نه ده چې موږ یې غوره کوو بلکې د هغو په اړه هم ده چې موږ غوره کوي او هغو منزلونو ته رهبري کوي چې موږ یې هیڅکله تصور هم نه دې کړې بلکې هغه ځایونو ته هم چیرې چې موږ باید واې.